دعبدالحّی حبیبی په اهتمام
ژباړونکی: درویش وردگ

۱۷ اپریل ۲۰۱۸

## السَّوادُ الاعظم- ۳۱

**پښتوترجمه**

**تألیف: ابوالقاسم اسحاق بن محمّد بن اسماعیل بن ابراهیم بن زید حکیم سمرقندی**

**د ۳۷۰ هجری کال په شاه اوخوا دامیرنوح سامانی په فرمان فارسی ته ترجمه شوی**

**نه پنځوسمه مسئله**

داده: چی هرڅوک چی حجامت وکړی طهارت یی له منځه نه ځی اولمونځ یی روادی. ولی باید پوه اوسو چی کوم وخت باید حجامت وشی؟ اورسول اکرم صلی الله علیه وسلم حضرت علی کرم الله وجهه ته وویل: یا علی! له اوله تر پنځه لسمه دمیاشتی له حجامت څخه پرهیزوکړه، چی هره ورځ بیل علت منځ ته راوړی. ولی له شپاړلسم څخه دمیاشتی تراخیره پوری هره ورځ بیماری اوعلت له منځه وړی. داد جبرئیل امین علیه السلام وصیت دی، چی هغه ویلی: حجامت ګټه نلری مګر دمیاشتی په اوولسم، نولسم اویا یوویشتم. چی په نورو ورځوکی فاسده وینه له بدن څخه وزی اوپه دی دریو ورځو کی علت له بدن څخه وزی اوشفا اوبرکت تن ته ننوزی. اورسول علیه الصلوة او السلام وویل: ستاسو ترټولو غوره دارو حجامت کول دی.

**شپیتمه مسئله**

داده: چی دتراویح لمونځ سنت دی. ځکه چی رسول علیه السلام وویل: که ملازمت وکړم نوکیدای شی چی امت ته می رنځ اوتکلیف ورسیږی.یوه شپه یا دوه شپی بهرراووت. ولی کله چی خلافت حضرت عمررضی الله عنه ته ورسید، هغه جوماتونه په څراغونو روښانه کړل اودتراویح لمونځ یی اداء کړ. اورافضیان وایی: دادعمر کاردی. وپوښتل شول: چی که څوک ټوله شپه دقرآن تلاوت وکړی غوره به وی اوکه دتراویح لمونځ وکړی؟ وویل شول چی تراویح باید وشی. وپوښتل شول چی که څوک ټوله شپه دحدیث اوتفسیر اوفقه درس ورکړی غوره دی اوکه تراویح؟ وویل شول دتراویح لمونځ. پس چی داسی ده ،هرڅوک چی طعن وکړی هغه هواداره اوملعون دی.

اوله دی ځایه څخه دی چی عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما وویل: هرڅوک چی درمضان دمیاشتی لومړی شپه تراویح وکړی داسی ده لکه چی زرکاله یی دخدای عبادت کړی وی، داسی چی دورځی روژه اودشپی په قیام کی وی.

اوپه خبرکی دی: چی هرڅوک چی دتراویح لمونځ وکړی، په هررکعت کی ورته زرنیکی په نامه کی لیکل کیږی، اوزربدی یی لیری کیږی، اوزردرجی ورته ورکول کیږی.

اوابی ابن کعب روایت کوی چی رسول علیه السلام وویل: هرڅوک چی جومات جوړ کړی، حق تعالی فرمان ورکوی ترڅواویازره فرشتی دده لپاره بخشش وغواړی، اویاهم دهغی په نام کوشک جوړکړی.اوهرڅوک چی په جومات کی قندیل وځړوی، حق تعالی فرمان ورکوی، ترڅواویازره فرشتی ترهغه دده لپاره دبخشش غوښتنه کوی ترکومه چی قندیل روشانه وی اودهرڅاڅکی غوړو په بدل کی ورته لس نیکی په نامه کی لیکی. او لس بدی ورځخه لیری کوی اولس درجی ورته ورکول کیږی، لس زیری ورکول کیږی اوځلورزره حوری یی په جنت کی په نام کیږی اوځلورزره حله وراغوندی.

اوهرڅوک چی په جومات کی یو پوزی واچوی، اویازره فرشتی دهغه لپاره ترهغی بخشش غواړی ترڅو هغه پوزی په جومات کی پروت وی.اوهرڅوک چی دوهمه شپه تراویح وکړی فرمان به راشی چی دهر رکعت په بدل کی ورته دوه زره نیکی ولیکی اودوزره بدی له نامی لیری کړی اودوه زره درجی یی په جنت کی پورته کړی. اوهرڅوک چی دریمه شپه تراویح وکړی، په همدی قیاس دمیاشتی ترآخره پوری څومره معنوی پانګه به ترلاسه کړی.

## یوشپیتمه مسئله

داده : چی دعاء کول همه ژوندیولره ګټوردی اوهم مړو ده راحت اوهوساینه ده. هرڅوک چی وایی دعاء مړوته مرسته نه رسوی هغه معتزلی اوملعون دی. چی رسول علیه السلام وویل: الدّعَاءُ هُوَ العَبَادَةِ. دعاءکول عبادت دی. اوپه بل خبرکی دی: الدّعَاءُ مُخٌ العَبَادَةِ. دعاء کول دعبادت مغزدی. اورسول علیه السلام وویل: دعاء ګټه لری هغی بلا ته چی نازله شوی وی اویا نه وی نازله شوی. اوتاسولره لازمه ده چی تل دعاء وکړی.

او ابوهریره رضی الله تعالی عنه روایت کوی چی رسول علیه السلام وویل: هیڅ مسلمان نشته چی دعا وکړی اوخدای عزّوجلّ هغه اجابت نکړی، ترڅوهغه یا په دنیا کی ور ورسوی اویا هم په آخرت کی دګناهونو کفارت وکړی، مګر که په دعا سره بزه(ګناه) وغواړی اویا قطع صله رحم وغواړی.

اوجابررضی الله عنه روایت کوی چی رسول علیه السلام وویل: تاسوته لاښوونه کوم هغه څه ته چی تاسوددوزخ له اوره وژغوری اوستاسو روزی فراخه کړی: وویل بلی یا رسول الله! وویل: چی شپه او ورځ دعا وکړی چی دعاء دمومن وسله ده.

اوحسن بصری رضی الله عنه روایت کوی چی رسول علیه السلام وویل: چی حق تعالی دبنده لپاره ډیر شیان پیداکړی، ولی هغه یی نیولی ترڅو چی بنده یی غوښتنه وکړی. ځکه چی حق تعالی هغه ورکوی چی وغوښتل شی.

اوانس ابن مالک رضی الله عنه روایت کوی چی رسول علیه السلام وویل: ستاسو خدای کریم دی اوهغه شرمیږی چی بنده په غوښتنه لاس ورته پورته کړی اوڅه وغواړی اوهغه یی تش لاس اونا امیده وګرځوی.

اوکعب الاحبار روایت کوی چی: که دیرش تنه مسلمانان سره راټول شی اولاس په دعا پورته کړی اوحاجت وغواړی، حق تعالی به په ریښتیاسره ددوی حاجت پوره کړی اودعا به یی اجابت کړی مګرکه دعاپه وبال اوګناه اوقطع رحم وی.

پس باید چی په دعاکولو کی تقصیر ونکړی، ترڅوهغه باری ذات په اجابت کولو کی تقصیر ونکړی. ولی باید دعا دنیاز اواخلاص له مخی وی اوله عاجزی تقصیر ونکړی ترڅو ددعا غیشی موخی ته ورسیږی. اوکه دعا په ځانګړو وختونو کی چی داجابت وختونه دی وشی فاضلتره به وی.

همدومره بس دی هوښیارانو لره!!!

والله اعلم

**تمت الرسالة الموسومة بالسواد اعظم**

**بعون الله العلى الاكرم**